بسم الله الرحمن الرحيم

# سیمه‌ییز اقتصادي بلاکونه او د ډېرو اسلامي خاورو تشه

(ژباړه)

هغـه نړۍ چې ګڼو خـدمتونو او د بېلابېلو توکو بې‌پایه اړتیاوو او مادیاتو ته پکې اړتیا ده، دولتونه د ســترو ازادو بازارونو د رامنځته کېدو او د خدمتونو او سوداګریزو توکو د پراخې راکړې ورکړې هڅه کوي. همدارنګه دولتونه د داسې بازارونو رامنځته کېدو په لټه کې دي چې ګمرکي خنډونه او مالیاتي ستونزې ترې لېرې شي. دوی هڅه کوي چې پردۍ پانګونې او په پرېمانه پیسې راجذب کړي. په داسې یوه نړۍ کې چې دولتونه په یوه سیمه کې راټول شـوي، هڅه کوي چې له یو بل سره په یو واحد اقتصادي بلاک کې یوځای شي، چې دا موخې پوره کوي او د اقتصادي تکامل کچې ته د رسېدو لپاره سوداګریزې اسانتیاوې رامنځته کوي؛ ترڅو په دې سره د اقتصادي قدرت درجه تر لاسه شي، چې په یوازې توګه داسې اقتصادي بلاک ته د یو دولت رسېدل ناشوني دي.

په نننۍ نړۍ کې تر لسـو ډېر سـوداګریز او اقتصـادي بلاکونه شـته چې همدغو موخو ته د رسـېدو هڅې کوي. ځینو هېوادونو واقعي بریاوې تر لاسه کړې چې پر مټ یې د غړو هېوادونو اقتصادي کچه لوړه کړې او د یو شمېر نورو ځانګړو اسبابو له امله، چې پخپل ځای کې یې په اړه خبرې کوو، خپلو موخو ته په رسېدو کې نه دي بریالي شوي.

هغه سیمه‌ییز اقتصادي بلاکونه چې نن په نړۍ کې شته، لس بلاکونه یې یادولی شو، خو پنځه بریالي بلاکونه دا دي:

**۱- اروپايي ټولنه:** اروپایي ټولنه اوسـمهال له ۲۷غړو څخه تشـکیل شـوې چې یې له «شـینګن» سـیمې سـره یوځای شـوي او په «یورو» یو پولي واحد راکړه ورکړه کوي. بهرني مسـافر په یوه وېزه سـره ټولو هېوادونو ته تللی شــي. نو پر دغه اسـاس، هېڅ داســې سـتونزه پکې نشـته چې د خلکو د تګ راتګ او په بشـپړې ازادۍ او ډېرې اسانتیا سره د سوداګریزو توکو د راکړې ورکړې خنډ شي.

اروپايي ټولنې د تېرې پېړۍ په ۵۰مه لسـیزه کې له شـپږو دولتونو سـره، چې له فرانسې، المان، ایټالیا، هالنډ، بلژیک او لوکزامبورګ څخه عبارت دي، خپل ماموریت پیل کړ. په دغو هېوادونو کې په پیل کې د ډېرو سکرو او اوسـپنې بازار ازاد شـو او د وخت په تېرېدو سـره په اروپايي بازار بدل شو، چې په ټولو توکو کې ګډ بازار دی. تر

دې وروسته د لوديځې اروپا نور هېوادونه لکه اسپانيا، پرتګال، ايرلنډ او بريټانيا هم دغه بازار ته دننه شول. دغه بازار نور هم پراخ شو چې د ختيځې اروپا نور هېوادونه لکه مجارستان، لهستان، بلغارستان، رومانيا، چک جمهوريت او سلواکيا هم ورسره يوځای شول او تل د پراختيا په حال کې دی.

په ۱۹۹۲م کال کې د «ماستريخت» د هوکړې تر لاسليک وروسته د اروپا بازار پر اروپايي ټولنه بدل شو چې په دې سره اروپا په نړۍ کې له ۵۰۰میلیونه څخه د ډېرو کسانو لپاره د ستر بازار څښتنه شوه.

اروپايي ټولنې په اسانۍ سره په دې ټولنه کې دننه بېلابېلې نژادي او ژبنۍ ستونزې له منځه یوړې او ۲۴رسمي ژبې چې د نن ورځې اروپايان په دې ټولنه کې پر خبرې کوي، په رسميت وپېژندې.

اروپايي ټولنې د غړو هېوادونو لپاره په اقتصادي او سوداګريزو پرمختګونو بسنه ونه کړه، بلکې د سياسي اړخونو پراخوالي ته يې هم پوره پام وکړ. پر همدغه اساس، يو عمومي کمېسيون يې رامنځته کړ چې د خپلو هېوادونو د بهرنيو سياستونو پر يووالي څارنه کوي او د ټولو غړو په استازيتوب يې واحد پارلمان رامنځته کړ. همدارنګه دې ټولنې د الزامي قوانينو د وضع کولو لپاره ټولو هېوادونو ته ګډې محکمې تاسيس کړې.

خو دغه سياسي او قانوني اړخونه د اروپايي ټولنې په دولتونو لکه فرانسې، المان او بريټانيا کې د شخړو او ستونزو رامنځته کېدو لامل شول، چې له دې ټولنې څخه يې د بشپړې سياسي خپلواکۍ غوښتنه کوله. دا چاره سبب شوه چې بريټانيا له دغې ټولنې څخه ووځي او په دې سره په فرانسه، المان، ايټاليا او اسپانيا کې هم سيالۍ او لانجې رامنځته شوې.

**۲- د نفتا اقتصادي بلاک:** دغه تړون د شمالي امريکا د دولتونو يعنې د امريکا متحده ايالاتو، کاناډا او مکزيک تر منځ د ازادې سوداګرۍ لپاره دی. دغه اقتصادي بلاک په **۱۹۹۳**م کال کې تاسيس شو او په درې ګونو دولتونو کې د سوداګريزو توکو ازادې راکړې ورکړې ته ځانګړې شو چې اوسېدونکي يې له ۴۵۰میلیونه تنو څخه ډېر دي او تر منځ يې هېڅ ستونزه نشته. خو د اروپايي ټولنې پر خلاف سياسي اړخونه پکې نشته او کېدای شي دا موضوع يې له يادې ناحيې څخه د غوره والي لامل شوې وي.

**۳- آسه آن بلاک:** دغه بلاک د لوديځې اسيا دولتونو د همپالنې بلاک په نامه يادېږي او په دغه بلاک کې لس دولتونه لکه اندونيزيا، ماليزيا، برونئي، تايلنډ، سنګاپور، ويتنام، لاوس، کمبوديا، فليپين او ميانمار پکې ګډون لري. دغه اقتصادي بلاک د تاسيس له پلوه لومړنی بلاک دی چې په ۱۹۷۶م کال کې تاسيس شو. دغه

سوداگریز او فعال بلاک د دغو دولتونو لپاره دی او په مستقیم ډول په محسوس کوانتومي خوځښت سره د اقتصادي کچې په لوړولو کې بریالی شو او هغه یې د مخ پر ودې دولتونو په ردیف کې شامل کړ.

**۴- د جنوب ګډ بازار بلاک:** دغه بلاک د جنوبي امریکا دولتونو لپاره ځانګړی بلاک دی او لس دولتونه پکې شامل دي، چې له برازیل، ارجنټاین، اروګوای، پراګوای، شيي، پرو، بولیوي، کلمبیا، ونزویلا او اکوادور څخه عبارت دي. دغه بلاک په ۱۹۹۱ م کال کې تاسیس شو او د ودې له پلوه په نړۍ کې چټک اقتصادي بلاک یادېږي.

**۵- د ارکیوم بلاک:** دا د «کاراییب» سیمې دولتونو ګډ بازار دی او ۱۲مخ پر ودې دولتونه پکې شامل دي چې له ډلې څخه یې هاییتي، جامایکا، ګرانادا، سورینام او نور واړه هېوادونه دي. دغه اقتصادي بلاک له دغو هېوادونو سره مرسته کړې چې په نسبي بڼه د کمزورو او کوچنیو دولتونو په توګه خپل اقتصاد ته وده ورکړي؛ خو په دغه بازار کې یې شتون له دغو دولتونو سره مرسته کړې چې په کور دننه د لوړې او بېکارۍ له ډېرېدو څخه وژغورل شي؛ څنګه چې دغه موضوع په کوچنیو دولتونو کې په ورته سیمو کې رامنځته کېږي.

**نابریالي او متزلزل پنځه اقتصادي بلاکونه دا دي:**

**1- د اوراسیا اقتصادي ټولنه:** دغه ټولنه په ۲۰۱۴م کال کې تاسیس شوه او پنځه دولتونه، روسیه، بلاروس، قزاقستان، ارمنستان او قرغیزستان پکې شامل دي. دغه بلاک د روسیې د ولکې او په روسیه پورې د غړو هېوادونو د نیمه مطلق سیاسي تړښت له کبله بریا ته ونه رسېد.

**۲- سیمه‌ییز اقتصادي بشپړ مشارکت:** دغه مشارکت په ۲۰۲۰ م کال کې اعلان شو او له ۱۵دولتونو څخه تشکیل شو. لس هېوادونه یې د «آسه آن» په بلاک کې شته او پنځه نور یې چین، جاپان، اسټرالیا، نیوزلنډ او جنوبي کوریا دي. د دغه بلاک د ماتې علت د پرمختللو او سترو دولتونو شتون دی چې ګټې یې په ټکر کې دي او سیاسي لیدلوري یې یو له بل سره جوړ نه دي. چین هڅه کوي چې د خپل اقتصادي قدرت له امله پر دغه بلاک واکمن شي، خو د چین رقابت له یوه پلوه او له جاپان، اسټرالیا، نیوزلنډ او جنوبي کوریا سره سیالي له بل لوري د دې سبب شوې چې دغه بلاک ناکام شي.

**۳- د لویدیځې افریقا دولتونو اکواس بلاک:** دغه بلاک د خپلو دولتونو په منځ کې د یو ګډ بازار په توګه په ۱۹۷۵م کال کې تاسیس شو او د بریټانیا پلوو شپږو هېوادونو لکه نایجیریا، غنا، کنیا، ګامبیا او سیرالیون سره

يې پيل غوره و او په جزيي بڼه برياله شو. وروسته فرانسې خپل پلوي هېوادونه لکه مالي، سنګال او نور دغه بلاک ته ورداخل کړل. پر همدغه اساس، د دغه بلاک غړي هېوادونه ۱۵ته ورسېدل چې اوسېدونکي يې شاوخوا ۳۵۰ ميليونه وو. تر دې وروسته فرانسې هڅه وکړه چې د برېتانيا د اکو پولي واحد تر څنګ خپل افريقايي فرانک پولي واحد هغه ته دننه کړي. نو د دواړو ډلو تر منځ لانجه رامنځته شوه او پر بلاک يې سياسي بريد وکړ. سياسي نښتې پيل شوې او بلاک ناکام شو، چې له سياسي او سوداګريز پلوه کمزورى شو.

**۴- د ختيځې افريقا بلاک:** دغه يو ګډ او نوی بازار دی چې په ۲۰۱۰ م کال کې تاسيس شو. په دغه بلاک کې د ختيځې افريقا اوه هېوادونه کنيا، تانزانيا، اوګاندا، بوروندي، رواندا، کانګو او جنوبي سوډان شامل دي. کېدای شي دليل يې په جنوبي سوډان او کانګو کې د کورنيو جګړو پيل او د هغوی د اقتصادونو کمزورتيا وي.

**۵- د جنوبي افريقا د پراختيا بلاک:** دغه بلاک ګډ بازار دی چې په ۱۹۹۲ م کال کې تاسيس شوی. په دغه بلاک کې نهه دولتونه لکه انګولا، بوتسوانا، مالاوي، موزامبيک، تانزانيا، زامبيا، زيمبابوې، لسوتو، اسواتيني او يو شمېر نور منزوي هېوادونه شامل دي، چې په نورو هېوادونو کې بند پاتې دي. دغه اقتصادي بلاک د ډېرو دغو دولتونو د اقتصادي کچې په لوړولو او له لوړې څخه د هغوی په ژغورلو کې برياله نه شو.

دا په نړۍ کې شته سيمه‌ييز مهم اقتصادي بلاکونه دي چې ډېری اسلامي هېوادونه لکه ټول عربي دولتونه، پاکستان، بنګله دېش، ترکيه او ايران کې پکې نشته؛ څنګه چې دغه هېوادونه پر دې نه دي توانېدلي چې د خپل ځان لپاره اقتصادي بلاکونه جوړ کړي او همدې موضوع يې ځواک کمزورى کړی او هغوی يې په نورو پورې تړلي دي.

**الرايه جريده: ۴۲۶مه شماره**

ليکوال: **استاد احمد «الخطوانی»**

**ژباړه: بهير «ويار»**